# دسلیمان لایق په اشعاروکې اخلاقي او وطندوستي روحیه

لیکوال
بریښنالیک
ارکاید

**پوهنوال سید عمر صدیقی**
دیپارتمنت ادبیات پشتو پوهنځی زبان وادبیات پوهنتون تخار، افغانستان
Sayedomarsediqi2014@gmail.com
0009-0006-6176-513

## لنډیز

که د پښـــتو ادبیاتو لیکلو آثاروته وکتل شي له مبالغې پرته سړی ویلی شي چې داسې سکالو نشته چې د پښتو شاعرانو او لیکوالو دې د شعر او یاهم د نثر په ښکلې ځولۍ کې نه وي رانغاړلي ، هر یوه ترخپلې وسې په یوه او یا هم په ډېرو موضوعاتو باندې د خپل قلم نیلی ځغولي دي ، خپل ولس ته یې یو څه پریښي دي ، د یادولو وړ ده هغه دا چې په پښتو ادبیاتو کې بې شمېره سیاسي ، اجتماعي ، اخلاقي ،وطندوستي ،انتقادي ، حماسي او فلسفي شعرونه او نظمونه شته او لرویې ، دا چې چا ورباندې کار کړی او هغه یې را ټولې کړې او سپړلې تر یوې اندازې لیدل کېږي ، لکه څنګه چې د سلیمان لایق په اشعارو باندې هم په بشپړه توګه چا کار نه دی کړی اوپه خاصه توګه د اخلاقي او وطندوستي روحیه په برخه کې چې د هغه په شعرونو کې هر اړخیزه مفکورې راوسپړي او څېړنه ورباندې وکړي ، نو ما دغه کار ته ملا وتړله تر څو د سلیمان لایق په اشعارو کې اخلاقي اووطندوستي روحیه را وسپړم او څـــېـــړنه ورباندې وکړم . نودلته مې وغوښتل چې په دغه څېړنیزه مقاله کې دغه ډول اخلاقي او وطندوستي روحیه چې دسلیمان لایق په اشعاروکې دادبیت اوهنریت دجوهر په مټ هویت اواعتبار موندلی وي، چې دفکر اوپیغام ترڅنګ یې دخلکوادبي اوهنري ذوق هم تسکین کړی وي راواخلم اوتشریح یې کړم . خودلته ترهرڅه مخکې غواړم لومړی اخلاقي او وطندوستي اشعارتشخیص اوبیایې وسپړم او ورکې هغه ځلول شوي فکرونه اوپیغامونه به هم جوت کړم چې اخلاقي اووطندوستي رنګ اوریا یا موخه اومانا ولري ترڅولوستونکي او د ادب مینه وال او په ځانګړي ډول د ادب اوفرهنګ مینه وال ترې سمه ګټه لاسته راوړي.

**کلیدي کلیمې :** اخلاقي ایډیال، شعري ارتقاء، افکار او هیواد پالنه

# The Moral and Patriotic Spirit in the Poetry of Suleiman Laiq


Author — **Sayeed Omar Sediqi**

Pashto Litrature of Language and Litrature Faculty of Takhar University, Takhar Afghanistan

E-Mail — Sayedomarsediqi2014@gmail.com

Orcid — 0009-0006-6176-513



## Abstract

When examining the works of Pashto literature, one can assert, without exaggeration, that there is hardly a theme left untouched by Pashto poets and writers, whether in the form of poetry or prose. Each, within their capacity, has addressed various topics, leaving behind a legacy for their people. It is worth noting that Pashto literature encompasses countless political, social, ethical, patriotic, critical, epic, and philosophical poems and compositions. However, the degree to which these have been collected, explored, and analyzed varies. For instance, no comprehensive study has yet been conducted on the poetry of Suleiman Laiq, especially with regard to the moral and patriotic spirit that pervades his work. This aspect of his poetry remains underexplored, with many dimensions of his ideas and themes still awaiting thorough investigation.Therefore, I took it upon myself to undertake this task in order to delve into the ethical and patriotic elements present in Suleiman Laiq's poetry. In this research article, I aim to explore and explain how these moral and patriotic concepts are intricately woven into the artistic and literary essence of his poetry. These themes not only convey profound ideas and messages but also satisfy the literary and aesthetic tastes of the audience.

Before proceeding, my primary goal is to identify and analyze the moral and patriotic poems in Laiq's work, and to uncover the underlying thoughts and messages that embody the essence of morality and patriotism. By doing so, I hope this research will benefit readers, literary enthusiasts, and especially those with a deep interest in literature and culture.


**Keywords**: moral ideals, poetic evolution, thoughts, patriotism.

Pamir Academic & Research Journal - مجله علمی څېړنیزه مجله - دپامیر علمی / پامیر تحقیقی-علمی مجلهٔ

## سریزه

د هرې موضوع په برخه کې څه لیکل په تیره بیا د شعر او شاعرۍ په لوی ډګر کې دیوې مو ضوع رامنځ ته کول ډېرو معلوماتو ته اړتیا لري دغه معلومات دزیاتو علمي معتبرو سر چینو او آثارو دپلټنې له لارې تر لاسه کیدای شي.

پښتو ژبه له هغه وخت نه چې دخبرو او کتا بو نو ژبه شوه دادب په تاریخ کې یې دیوه نوي ادبي او علمي ژوند بنسټ کېښود، زمورږ ادیبانو ،شاعرانواو لیکوالو دخپلو ادبي او علمي هڅو ،فعالیتو نو ،هلوځلواو دبې ساري شاعرانه نوښتونو ،تر کیبونو اوتصویرونو په نتیجه کې

نن ورځ پښتو ژبه او ادب یې په یوې نوې او ځواکمنې لارې دادبي او ملي ګټو په ګانه سمبال کړی دی.

د دغو پیاوړو او تکړه لیکوالو او شاعرانو له ډلې څخه یو هم ښا غلی سلیمان لایق دی چې د ده په اشعارو کې فکري رنګارنګي په سمه توګه لیدل کېږي نوماهم دازیاراپستلی دی ترڅوپه دې مقاله کې دده اخلاقي او وطندوستي اشعار دده داثارو څخه راټول کړم او ویې سپړم .

لکه څنګه چې لایق په فکري او اروایي توګه ځان دخلکو دښې او نیکمر غې ورځې لیدوته سپارلی دی دیوې ادبي تحریک دفکري شالید په بڼه په خلکو کې را وټوکیدو،لایق دپښتو معاصر ادب (خصوصآ د انتقادي ریالیزم په حواله سره) یو تکړه او دښه استعداددرلودونکي شاعر دی ،ژوند یې ټول دذهني استبداد ګر او استعمار چیانو په ضد دمبارزې روڼه هنداره ده او د ده دشاعري او ادبي هڅو زیاته برخه اخلاقي او ټولنیزو افکارو تعمیم او دټولنې دزیارکښ انسان دیو والي ، پیوستون او همدارنګه دظالمو او استعمار ګرو په وړاندې د دوی ویښولو ته وقف شوی دی .

## د مسالې معرفي کول (تبین مساله)

سره له دې چې پښتو شعر او ادب له سیاسي، اجتماعي، فلسفي، انتقادي، عشقي، اخلاقي، وطندوستي او حماسي سوژو او افکارو څخه خالي نه دی، خو یو داسې مقاله چې یوازې د سلیمان لایق اخلاقي او وطندوستي اشعار څېړنې او شننې ته ځانګړی شوی وي او بیا خپور شوی وي زما له نظره نه دی تیر شوی . د همدې اړتیا او ضرورت له مخې چې دغه خورا نوې موضوع د څېړنې لپاره ما وټاکله، ترڅو د سلیمان لایق په اشعارو کې اخلاقي او وطندوستي روحیه لومړی په دقیق ډول تشخیص کړم، بیایې راټولې او وروسته یې توضیح او تشریح کړم، له نېکه مرغه د سلیمان لایق په شعر او شاعرۍ کې اخلاقي او وطندوستي افکار په زیاته پیمانه انعکاس موندلی او بېلګې یې ډېره ترسترګو کېږي .

ما په دغه څېړنیزه مقاله کې د سلیمان لایق شعرونه چې اخلاقي او وطندوستي فکرونه او نظریات ورکې ځلیدلی وي د مختلفو معتبرو سرچینو څخه راټولې کړي او دلته مې څېړلي او شنلي دي. باور لرم چې دا زما څېړنیزه مقاله د سلیمان لایق اخلاقي او وطندوستي اشعارو په شننه او څېړنه کې لومړۍ اثر وي، هیله من یم چې نور لیکوالو او ادیبانو به هم دا لاره

مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر / - دپامیر علمی څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

ونيسي او دغه شانته موضوعګانې به لا زياته او ډېره پسې وڅېړي، چې دا ډول ليکنې او څېړنې زموږ د ملي او فرهنګي شتمني په بډاينه  کې مرسته کوي .

## د څېړنې پوښتنې

اصلی پوښتنې

۱- د سليمان لايق د اشعارو په فکري رنګارنګۍ باندې تر کومې اندازې پورې کار شوی دی؟

فرعي پوښتنې

۱- د سليمان لايق د اشعارو په فکري تنوع کې کومې برخی روښانه شوي دي؟

۲- د سليمان لايق په اشعارو کې کوم ډول فکري تنوع ليدلای شو؟

۳- د سليمان لايق د اشعارو کومه برخه ډېره درنه بريښي؟

## د څېړنې موخې (اهداف)

د سليمان لايق په اشعارو کې اخلاقي اووطندوستي روحيه تر سرليک لاندې موضوع کې داسې مطالب ځاي شوي او بيان شوي دي چې په هغه کې اخلاقي اووطندوستي موضوعات تشريح شوي دي ، نو د فکري او هنري ارزښت له پلوه ځانګړی اغېزه لري . د سليمان لايق د شاعري درنه برخه د افغانستان او پښتون ملت د ويښتيا او يووالي لپاره ځانګړی شوې ده . د لايق په وينا کې تل رياکاران او د تير شاهي نظام واکداران ټکول شوي او نقاب يې له مخ څخه غورځېدلی دی .

نو دا هم ويلی شو چې ددغه مضمون د فکري محتوا په درک او پوهېدو سره به د ادب مينه وال او په ځانګړې ډول هر لوستونکی به د سليمان لايق د شعر په معنا او مفهوم ځان پوه کړي.

## د څېړنې شاليد (پيشينه تحقيق)

د سليمان لايق په اشعارو کې اخلاقي او وطندوستي روحيه داسې يوه موضوع ده چې زما په اند مخکې په سمه توګه چا نده ليکلې او څېړلې او زما له نظر تر اوسه پورې ندی تير شوی، د همدې ندرت له مخې ددې موضوع څېړنې او شننې ته خورا زيات اړتيا محسوسيدله، نو

ځکه ما دا موضوع وټاکله او ومې څېړله، فکر کوم په منظم ډول به زما دغه مقاله د پښتو ادب په برخه کې لومړنۍ څېړنیزه مقاله وي چې د سلیمان لایق په اشعارو کې اخلاقي او وطندوستي روحیه ورکې لیکل شوی او څېړل شوې ده، او که چېرې چا د سلیمان لایق په اشعارو څېړنه هم کړې وي نو د لایق په نورو شعري رنګارنګیو به کار کړی وي، اما په دې برخه کې تر اوسه پورې چا کار ندی کړی .

او همدارنګه په دا څېړنیزه مقاله کې له ګڼ شمیر معتبرو ماخذونه څخه مې کار اخیستی او استفاده مې ورڅخه کړې ده چې زما له موضوع سره یې نږدې تړاو درلود.

د څېړنې میتود: د کوم روش او میتود څخه چې ما په دې څېړنیزه مقاله کې ورڅخه کار اخیستی هغه کتابتوني روش دی ، د مقالې په اړه مې ګڼ شمیر کتابونه راټول کړي او استفاده مې ورڅخه کړې ده .

## د څېړنې ارزښت اواهمیت

د هر ډول موضوعاتو راوړل د شاعر په هنرمندانه فکر پورې اړه لري چې د هغې موضوع لپاره څه ډول الفاظ و ټاکي او په څه ډول یې لوستونکو ته وړاندې کوي ، دلته چې موضوع د سلیمان لایق په اشعارو کې اخلاقي او وطندوستي روحیې ته اختصاص ورکړ شوی نوکه په سمه توګه د لایق شعرونو ته وګورو دده په شعرونو کې هر ډول مفکورې لکه سیاسي ، انتقادي،اخلاقي ، وطندوستي ،اجتماعي، عشقي او حماسي په ښه توګه لیدل کیږي .

د سلیمان لایق په اشعارو کې اخلاقي او وطندوستي روحیه یوه داسې موضوع ده چې مخکې په سمه توګه چا نه ده څېړلی . د همدې ندرت له مخې ددې موضوع څېړنې او شننې ته خورا زیات اړتیا محسوسېدله نو ځکه ما دا موضوع وټا کله او ومې څېړله .

## پایلې او موندنې

د سلیمان لایق په اشعارو کې اخلاقي او وطن دوستي روحیه

که د آثارو عمومي احصایه په پام کې ونیسو را ته څرګنده به شي چې دپښتو ادب معاصره دوره له هره اړخه خورا پیاوړې دوره بلل کېږي.سپین شعر، هایکو او یوشمېر نورو فورمونو هم په دغه دوره کې بشپړ پرمختګ وکړ، ډېر مینوال یې وموندل. او شعري بڼ یې پرې ښایسته وساته .

د یادونې وړ ده د منځپانګې له مخې هم دغه دوره ځانګړې ارزښت لري، ځکه شاعران یې له ګڼو پېښو څخه اغېزمن شوي او خپل احساسات یې د شعر په ژبه څرګند کړي دي. سلیمان لایق ددغه کتار هغه ستوری دی چې په شعري ذوق یې ډیر وګړي دې ته متوجه کړی، څو له خپلې خاورې ، ټبر او هیواد سره مینه وکړي. دلته د لایق په شعرونوکې دوه بنیادي ټکي خورا اړین بولم . یو دا چې سلیمان لایق په خپلو شعرونو کې دهیواد، خاورې، ټبر او وګړو سره پوره مینه کړې ، بله دا چې دشعرونو اخلاقي اړخ یې هم پوره وده کړې ده ، شعري ډګر یې پرې ګرم ساتلی دی. مونږ ددغه علمي مقالې په لړ کې دا دوه اړخه څه ناڅه را وسپړل .

دسلیمان لایق په اشعارو کې اخلاقي روحیه

سلیمان لایق د پښتو ادب په ارته لمن کې ګڼ شمېر آثار لري، چې د اوسمهال غوښتنې یې په شعرونو کې راسپړلې دي. په شعرونو کې یې اخلاقي اړخ خورا پیاوړی دی نوموړی وروړپالنه په رنګینو الفاظو داسې ترسیموي .

ژوندون که ښه دی په انسان ښـه دی
کـه انسان ښه دی په احسان ښـــه دی
زمـــــوږه ښکـــلـــی هــیواد که ښـــه دی
په ورور پالـــنـــه دافـــغـــان ښـــــــــه دی

(لایق ، ۱۳۹۰،ص۱۸۳)

دسلیمان لایق پورتني شعر ته که په سمه توګه وګورو نو دده په شعرکې اخلاقي رنګ له ورایه ښکاري اود افغانانو ژوندکول دوروروالی په فضا کې دده د شعري ځواک ننبه ده ،اودهرانسان لپاره احسان غوره شتمني بولي .

نــه پــنجـــابیـــان دي، نــه غـــجـــران دي
زمــــــوږه خـــلـک ټـول افـــغـا نـــــان دي
په یــــــوه با غچه کې وړ- وړ مېـــوې دي
په یــــــوه چـــــمن کې راز - راز ګلان دي

(لایق، ۱۳۶۰،ص۸۹)

که پورتني بیتونو ته په سمه توګه وګورو دلایق په شعرکې اخلاقي رنګ په سمه توګه لیدلای شو، افغا ني وحدت یې په ډېر ښه شان بیان کړی دی په رښتیا هم یو والی همدې

ته وایي چې ټول افغانان په یوه کورکې اوسیږي اوټول سره ورونه دي که پښتون دی ،که تاجک دی،که هزاره دی ،که پشه یي دی او که ازبکان دي،ټول دیوې ونې څانګې دي چې رنګارنګ میوې نیسي. د دغه شعر منځپانګه خورا لوړه بریښي ملي وحدت د اخلاقي ایډیال په توګه ترسیموي. هرڅوک باید خپل مسوولیت وپېژني ، شاعر هم مسوولیت لري چې د ټولنې وګړي د ورور ولی، مینې او ښېګڼې خوا ته راوبولي .

کـــــــــه هزاره دي کـــــــــه تاجـــکان دي

کـــــــــه ازبکان دي ،کـــــــــه تـــرکمنان دي

له پښتنـــــــــونه بیـــا تـــــر بلــــــــــو څــــــو

په یوه وطـــــن کې ټـــــول افغـــــانان دي

(لایق،۱۳۶۲،ص۷۱)

سلیمان لایق په پورتني شعر کې افغانان د یوه ګډ کور غړي بولي او دافغانانو تر منځ یې څه توپیر نه دی کړی،وایي چې ټول افغانان دیوه هیواد(افغانستان) وګړي دي.اودافغان نوم دټولولپاره بسنه کوي .نود لته هم لایق خپل درانه مسوولیت ته متوجه دی، نوموړی وایي چې په بې اتفاقۍ سره هیواد نه جوړیږي بلکې وحدت او ورورولي ده چې الله پاک هم پرې راضي کیږي.او دبنده دخوښۍ لامل هم ګرځي .

## دوخت لوبه

د زمـــــــان

دسمـندر لـه هـــرې څـنـــډې

هـــره ســــــا یوه

بـېړۍ وزي روانـــــېږي

لاهغه الـونیا نـه وي

چـــــــې یـــوه بـلـــه

دسـفـر

منــتظـرانــــــو تــــــــــه رسـېــــږي

دراتګ غـــــوا که

هـــــر څومره قوي وي

Pamir Academic & Research Journal - پامیر علمي څېړنیزه مجله / مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر

دبیا تګ پـــه سر

انجـام کې تما مېږي

تـــول عالم دوخت

دلوبو نندارڅو دي

څوک رسېږي نندارې

ته څوک ډوبېږي

ژوندون څـه دی ،یو

میدان دهسې لوبې

چـــې په باد باندې

سپرېږي اوتېرېږي

لایق کـومه هیله

وکــــــړي له دې عمره

چـــــې په سایې

دبنیاد خښـــتې نړېږي

(لایق، ۲۰۱۳، ص۳۴)

دسلیمان لایق د شعر عمومي جاج خلک او ولس د پوهې او زده کړې خواته رابولي او وایي چې وخت لکه سره زر داسې ارزښت لري او د سترګو په رپ کې تیرېږي نو د هر چا لپاره دا ضروري خبره ده چې باید خپل ځان د زمانې له غوښتنې سره سم عیار کړي ترڅو د نورو نه وروسته پاتې نه شي دلته له عمرڅخه هم سرټکوي. دوخت تېریدل د باد په شان بولي ، سلیمان لایق دغه بیتونه د سترخوشحال بابا پرسبک ویلي هغه هم عمر له باد سره تشبې کوي .

## دسلیمان لایق په اشعارو کې دهېوادپالنې روحیه

داځمکه څه ده ؟ کـــه افغان نه وي

هغه تن څه دی چي کې ځان نه وي

هندوکش څـــه دی،څومرې ډبرې

کـه کـــور اوکـلـــی دافغـان نه وي

(لایق، ۱۳۹۰، ص۱۴)

دسلیمان لایق دپورته بیتونو له منځپانګې دا ښکاري چې په افغانانو مین کس دی،وایي ځمکه په افغانانو ښکلې ده که په دې ځمکه افغانان نه وای دې ځمکې اودې خاورې به هیڅ ارزښت نه درلودی .د لایق فکر د هیواد خاوره، وګړي او دهغه ژوند د سرو زرو په شان بولي، هندوکش، آباسین ،ترنک، ارغنداب او آمو ددې خاورې هغه پانګې بولي چې د نړۍ په هېڅ وچه کې يې بېلګه نه موندل کېږي

## وطن هېرول

ما وې چې لاړشم او وطـــــن هېـــــر کړم
دغـــــه دويـــنـــو انجمـــن هـــــېر کـــړم
په زړه مي شيــــــن دی دا دغـــــم بـوټـی
خلکو زه نه شـــــم چې وطـــــن هېر کړم
(لایق،۲۰۱۳،ص۷۳)

د سلیمان لایق له پورتني شعرڅخه دا څرګندیږي چې هغه په وطن باندې مین کس دی ،وطن هیڅ وخت نه هېریږي که ټول عمر یوانسان په پردیسي کې تېره کړي بیا یې هم خپل ټاټوبی یادیږي.اودی تل دمردک خوړلې بلبل په څېر له خزان وهلي بڼ څخه دوتلوهلي ځلې کوي خو د وړکتوب خاپوړې اودژوند بیلابیلې خاطرې دتللو اجازه نه ورکوي .

## هره ډبره

هـــــره ډبـــره زمـــونـــږ دغـــرونــــــو
يـــوه مـعـــجـــزه ده دقـــد رتـــــونـــو
زړه مـــــــې تـــــړلـــی پــه هـره شـــګه
پاس په چړنو، کـــــــــوز په خـــوړونـــو
(لایق،۲۰۱۳،ص۶۳)

دسلیمان لایق پورتني شعر ته که په سمه توګه وګورو نو دده په شعرکې دوطـــــن دمینې رنګ له ورایه ښکاري.ده دګران افغانستان دهرغره ډبره یې یوه معجزه دالله ج دقدرتونـوبللې ده اودخپل زړه داسې پیوستوالی یې ورسره ښودلی چې دچړنو اوخوړونوسیمه یې یــــوه بیلګه راوړې ده .

ای

زمـــــــــاښکلی وطــــــنه زمـــــاتنه

مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر / - دپامیر علمی څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

زماکوره
زمـــــاکـــــــــوره زماعدنه
چې نارام ته مې
ویاړې تـــه مې نازې

ستازانګودبــــــاباغـــــیږ دمورلمنه
زمــــاپه ډډو
دګلانوپــــــالنګ لګي
که هرڅومره
دستاخـــاوره شي اغزنه
په دروکې په
سیندوکې پـــه رغوکې
په هـــرګام کې
دې د ژوندسندره پلنه
هــــــره
تیره دې له شور اوزوره ډکه
دفرنګ
دیـــــرغلـــــودندان شـــکنه
ستاپه پښه کې
سپیلنی اوویاړنی شم
ای
زمـــاښکلی وطنـــــه،زمـــاتنـــه

(لایق،۱۳۹۱،ص۱)

پورته شعر دسلیمان لایق دفکر هینداره ده. یوپیاوړې وطن دوستي په کې له ورایه معلومیږي نوویلای شوچې لایق یووطن دوست شخصیت دی چې همیش یې دوطن دمینې په پلمه خواږه او زړه راښکونکي شعرونه اونظمونه ویلي دي .

## دسلیمان لایق په شعر کې دوطن ستاینه.

دپښتو ژبې پیاوړي شاعر سلیمان لایق په لاندې بیتونو کې د خپل هیواد ښکلاء په خورا لوړ انداز سره ثابته کړې، لاتردې کچې چې د بیابان اغزي هم د بل هیواد تر ګلونو غوره ګڼي. د لایق په عاطفه کې دا مسایل را ګرځیدلي چې هیواد د خولو په باران کې ډوب دی څوک نشته چې ددغه زخمي هیواد د وګړو غږ واوري .

دخولوباران

ژړوي

مــــــــــې تېريادونه دشــــــــباب

زه کـــــــه څه

يمه

دغـــــــــرونو

ځيږ افغان

يوځل دومره

مهلت راکړه چې اوبه کړم

ستـــــــــادشونډوپه شـــــربت تږی ارمان

پــــــرېږده پرېږده

چــــې راوسپړي ګلونه

داتــــــېره

تــــــــــېره

اغــــــزي

دبيابــــــــان

کـــــــــه لاسونه

دباغبان وای خوځېدلي

لاپــــــــخوابـــــ

ــــه دا بېديــــا

وه ګلستان

هـــــــره لوېشته
یـېـ دمینې مـنزلګاه وه
دا وطن چـــې
اوس لـوچ شوی اوعریان
هـــــــــــــــره
تیرېه دوطن بچــــــوته ژاړي
خوافسوس چې
څوک یې نه اوري فغان
دلــــــــړمو او
مارانو پـــــه ځــــای پربړده
چــــــې خواره شي
سنـــــدرغـــــاړي بلبلان
هـــــره څنډه بـــه
یې رشک دفردوس شي
کــــــــــه پې سم
شي دخـــــــولوګرم باران
(لایق،۱۳۹۲،ص۶)

دلایق په پورته شعر کې وطن دوستي او افغان دوستي څرکونه له ورایه ښکاري چې هر بیت یې د ده د افغان دوستۍ او وطن دوستۍ نمایندګي کولای شي .لکه څنګه دی په خپل وطن باندې افتخارکوي اوهره ډبره دلالونوځخه غوره بولي..

دچړې خوب
افغان چـــــاسره نه
جنـــــګوي ولــــــــــي
لاپالي لـــــــه
ګاونــډیو دود اوخـــــــــلي
له هر چـــــــا
سره ساتـــــي د وروری‌مینه

لایې څـــــــوک
په دښمنۍ نه دي نیولي
چـې غلیم یې
لمسوي دوی ورته خاندي
خدای لـــــــه
مـوره په درنه ورځ زېږولي
لکه غرونه دوطن په
تــــــــــوپـــانو کې
سپـــلابونو ته
مسکیږي غلــــــــي غلي
چا چې
کــــــــبرته شمله پرې نېغه کړیې
دوی
هـــــــــغه له خپله کــبره غورځولي
کـــه یې ایښي
چاته په سپینه لمن ټاپي
هـــــغه ټاپي
یې پخپلو ویـــــــــنو وللي
که چا یو ورسره
کـــــــړي دوی سل کړي
ځـــــــــوابونه
یې پــــــــــــــه دې تله تللي
ټـــــول افغان
لــــــــه اباسینه تر جیحونه
زمـــانې په یوه
زانګوکې زنــــــــــګولي

Pamir Academic & Research Journal - د پامیر علمي څېړنیزه مجله – مجلۀ علمی-تحقیقی پامیر /

کـــــــه پښتون

، که هزاره ، که ازبک دی

لـــــــه

یـــــــوبل سره په یـــــــو مزي تړلي

(لایق،۲۰۱۳،ص۹۰)

د سلیمان لایق پورتني شعر ته که په سمه توګه متوجه شو نو د هیواد ولسي او افغانیت فکر پکې په سمه توګه راڅرګندېږي او هغه دا چې شاعر دلته د افغانانو تر منځ کرښه او سرحد نه مني او وايي چې افغانان څوک هیڅکله نشي چې سره بیل کړي او ددوی تر منځ بې اتفاقي او درزونه پیدا کړي ، او هغه څوک چې د افغانانو بې اتفاقي غواړي هغوی دې خدای (ج) د نمرود د لښکرو په شان له منځه یوسي .

دپسرلي ډېوې

دا اورونـــــــــــه په

بیدیاووکې بلېږي

که دسروګــــلوغوټۍ دي چې

غوړېږي؟

دخاټولـــــــــــــوقافلې

دي راروانـــــــې

کـــــــه دسرومیوپیالې

ویشلې کېږي؟

نـــــــوي نوي

قـــــــــوتونه ارزوګـــــانې

په

رګـــــــــــونودبـــــــز

ګرانوکې نڅېږي

ځـوانه ګوره چې فرصت درنه

لاړنه شي

زمـــــــانه انتظارنه
بـــــــاسي تېرېږي
دوطن فـــــــــضاهوا
اودښتې غـــرونه
دزلـــــــــمو له
ارمـــــــانوسره سمېږي
زمانـــــــــه به پرده پورته
کړي له کاره
ددښمن زړګی که چـــوي که
ویلېـــــــږي
چې په سرکې يې هوس دمستۍ
نه وي
هـــــــغه کام نه پورته
کېږي نه رغېږي
پسرلی بـــــــــه نوی نوی
زېری راوړي
چې
دفـــــــــکرمسیحاپکې
خـــوځېږي (لایق،
(1360:27

که دلایق پورته شعر په غورسره وګورو نو راته ښکاره به شي چې په دې شعرکې طبیعي منظرې ستایل شوي دي اوپه خاصه توګه دپسرلي ننبې ننباني يې ستايلي اودانسانانو لپاره دسوکاله ژوندهیله کوي .په همدې ترتیب يې خپل هیواد له ډیوې سره تشبې کړی ، ډیوه تل خپل ځان سوځي او نورو ته رڼا ورکوي .

دپښتوکوره

ای د ایشیا تـــــاجه دلـــــــــرغـــونـــوعظمتوکوره!
ګران افغانستـــانه دزړه ســــــــــــره دپښتــوکوره

مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر/ - دپامیر علمی څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

مینه دې خوځېږي زمـــــــاپه شعرکې ښېې ښېې
ای دلــــــــــــــــوړو غرونـــو اوسیندونـــواو درو کوره
ستــــــاپه طبیعت کې طبیعت هم رزمي شوی دی
ای د سیلاونـــــــواو واورینــــــــــــــــو توفانـــوکوره
هــــــــــره لوېشته خاوره دې کتاب کتاب خبرې دي
ای د روایـــــــــاتو مذهبــــــــــــو اوتـــــــــــرانو کوره
ښاد دې يې،اباد دې يې،ازاد دې يې،ودان دې يې
کــــــــور دامنیت دې یــــــې کعبه دهـــــر افغان دې يې
(بېنوا، ۱۳۸۸،ص۸۸)

که پورته شعرته په زیرسره وګورو نو لایق دګران هېواد افغانستان ستاینه کړې ده. او دهېواد طبیعي جوړښتونه يې ستایلي دي .

پایله

څرګنده خبره ده چې د منظوم کلام تله او ترازو قافیه او عروض ګڼل کیږي ، دا چې په منظومه ژبه ددې فن مراعاتول د هر شاعر لپاره اړین ګڼل کیږي ، یا دا چې د منظوم کلام لپاره به یو اسلوب او سبک ټاکي . د اسلوب او سبک پرته به ګرانه وي چې شاعر د شعر ځانګړتیا وي دې روښانه شي ، ځکه د سبک په واسطه د یوه شاعر شخصیت او د هغوي ټول پرنسیپ روښانه کیږي .

د معاصرې دورې وطندوست شاعر سلیمان لایق هم د یوه اسلوب خاوند شاعر دی چې په خپله هنرمندانه ژبه يې زموږ د ټولنې رنګینه عکاسي کړې ده .

د معاصرې څېړنې په اعتبار ویلی شو چې د سلیمان لایق د منظومې ژبې تر ټولو لویه ځانګړنه داده چې په شعرونو کې يې سیاسي ، اجتماعي ،اخلاقي،وطندوستي، انتقادي ، حماسي او فلسفي افکار له ورایه لیدل کیږي . له شکه پرته پښتو ادب په دغه لویه او ارته لمن کې ډېر داسې ادبي ستوري شته چې په کلام کې يې ډېرې ښې ادبي مرغلرې لیدل کیږي چې زمونږ دوګړو تنده ورباندې خړوبه وي .

په اخلاقي، اجتماعي ، انتقادي ، حماسي او فلسفي بڼه د شعر ویل خورا ستونزمنه خبره ده

سلیمان لایق هغه ادبي شخصیت دی چې د خپلو خوندورو اشعارو ، ادبي لیکنو په ترسره کولو سره یې خپلې ژبې او ادب ته ډېر څه ورکړي ، په تېره بیا د ملي کلتور د ځلولو هڅه ، خلک د سولې ، اتفاق او یووالي خواته رابلل نه هیروي .د شعرونو په منځپانګه کې یې اخلاقي او د هیواد پالنې اړخونه خورا قوي بریښي .

## پایله

له شکه پرته د منظوم کلام ښکلا او ښایست په څلورو اساسي توکو (تخیل، ادراک، عاطفه او احساس) پورې تړلې ده. سلیمان لایق هم خپله شاعري د دغه اړوندو توکو په وسیله رنګینه کړې ده. لایق تربل هرڅه د شعري قوت په موخه اخلاقي او وطندوستي ته مخه کړې، شعري ځولۍ یې د اخلاقي او وطندوستي پرمتې ډکه ښکاري. په معاصره دوره کې ډېره سلنه شاعرانو اخلاقي او وطندوستي رنګونه انتخاب کړي، بیا په ځانګړي توګه سلیمان لایق اخلاقي او وطندوستي رنګونه په خپل ګڼو شعري فورمونو کې استعمال کړی، دا ځکه چې نه یوازې خپل درد بلکې د ټولنې د وګړو، خاورې او هیواد پالنې دردونه یې په اخلاقي او وطندوستي رنګونو او ظریف سبک په خپلو شعرونو کې څرګنده کړې. نوموړي شاعر ته اخلاقي او وطندوستي افکار ځانګړی هنداره ښکاري چې د منظوم کلام ټول اړخونه په کې ویني، د ظالم ظلم او د مظلوم عاجزي د اخلاقي درد په وسیله راسپړي. نو ویلای شو چې سلیمان لایق د معاصرې دورې په شاعرانو کې د اخلاقي او وطندوستي رنګ د استعمال په وجه ممتاز شاعر ګڼل کېږي. په پای کې د نوموړي شاعر د اشعارو رنګارنګیو څخه مو څو بېلګې د اخلاقي او وطندوستي افکارو څخه ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړ ترڅو د دوی د پام وړ وګرځي.

## د څېړنې وړاندیزونه

د دغې مقالې دلاښې پېژندنې او بشپړ درک لپاره به ښه او په ځای وي چې لاندې وړاندیزونه په پام کې ونیول شي .

۱- د درنو او ښاغلیو څېړونکو څخه په درنښت هیله کېږي چې د معاصرې دورې شاعرانو اشعار په سمه توګه تر څېړنې لاندې ونیسي او خپل ژبه پرې لاغني کړي.

۲- د پښتو شاعرانو په خاصه توګه د سليمان لايق اشعارو کې هر ډول مفکوري لکه: سياسي، اجتماعي، اخلاقي، ديني، وطندوستي، فلسفي او حماسي رنګارنګی موجودې دي نو هيله کېږي چې د دوی اشعار دې ترڅېړنې لاندې ونيول شي او ګټه ترې واخيستل شي.

## منابع


بينوا، عبدالروف . (۱۳۸۸) . اوسنی ليکوال . کندهار: علامه رشاد خپرندويه ټولنه

جهاني، عبدالباري. (۱۳۶۱). د مشکو کاروان. کوټه: صحاف نشراتي موسسه

روهي، محمدصديق. (۱۳۸۵). شعر پيژندنه. کابل: صميم ادبي ټولنه

روهي،محمدصديق . (۱۳۸۴) . د پښتو ادبياتو تاريخ (دويم ټوک)پېښور: دانش خپرندويه ټولنه

شميسا، سيروس. (۱۳۸۱). انواع ادبي. تهران: انتشارات فردوس

عميد، حسن. (۱۳۸۳). فرهنګ عميد. تهران: انتشارات اميرکبير

لايق، سليمان . (۱۳۵۷) ـيادونه درمندونه . کابل : دولتي وطبعه .

لايق، سليمان . (۱۳۶۰) . کيږدۍ (دويم چاپ) . کابل : د علومو اکاډيمي مطبعه .

لايق، سليمان . (۱۳۶۲) . شپېلۍ. کابل : د علومو اکاډيمي .

لايق، سليمان . (۱۳۹۰) ـسپرغکي . کوټه : پښتو ادبي غورځنګ .

لايق، سليمان . (۱۳۹۱) . د اباسين سپيدې . کابل : دولتي مطبعه .

لايق، سليمان . (۱۳۹۲) . چونغر. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه .

لايق، سليمان . (۲۰۱۳م) ـسندرې په سويوواټونوکې . کوټه : پښتو ادبي غورځنګ

لايق، سليمان. (۱۳۶۳). ساحل. کابل: دولتي مطبعه

مشواڼی، عبدالقيوم زاهد. (۱۳۸۵) . پښتوپښتوسيند. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه .